مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۱۲ / ۳۱

**د نوي کال په مناسبت يوه ډالۍ:**

## نوی کال

يو سوچ مي ځغلولی په راتګ د نوي کال
نه جنګ وي نه جګړه وي نه يو بل سره جنجال
امنيت وي، ازادئ او ارامی سره ترلي
تيری نه په عزت نه په ناموس وي نه په مال
جامه کي د انسان پټ لېوان ټول وي تښتېدلي
نه غل، نه لنډه غر وي نه يي سوچ وي نه يي خيال
دېوان پېريان د خلکو له اوږو وي پاڅېدلي
ميندلی وي ولسونو د ژوندون بيرته مجال
تقدير او برخليک باندي ولس خپله وي واکمن
د پير او د ملا د کريشمو پيښ وي زاوال
شيطان پاس په اسمان کي ملايکو وي ترلی
په ځمکه کي راڅېر وي خلکو منځ کي خردجال
دوستي او وروروولي وي راشه درشه وي په مينه
ولسونو تر منځ نه وي د بېلتون نفرت دېوال
څو تنو په خوښی کي د ټول ولس خوشالي نه وي
هيڅ ولس به خوشال نه شي چي يو تن يي وي ملال
خوښي وي خوشالي وي عمر ټول وي لکه جشن
نڅاوي او ګډاوي هره ورځ وي، پوره کال
ځوانان وي ځنې غوړي، اتڼونه وي مستي وي
لاسونو کي د نجونو وي نکريزې او ديرال
ساقي په ميخانه کي جام په لاس ډک له شرابو
هيڅوک په خيال کي نه وي د ثواب او د اوبال
همداسي ورځ به راشي «مرادزي» په خوار ملت
نهيلي ورته نه يوو، پوره کېږي به دا سوال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ